# د سعدالدین شپون د ناولونو کرکټرونو ژبه

پوهنمل فریدالله اندیال

پشتو، تعلیم و تربیه، پوهنتون غور، فیروز کوه، افغانستان. (نویسنده مسئول)،
Faridullah8581@ghru.edu,Af

تاریخ دریافت:۲۰ /۱۴۰۴/۲ – تاریخ پذیرش: ۲۵ /۱۴۰۴/۳ – تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۱۰/۹

## چکیده

سعدالدین شپون د ناول لیکنې غښتلی لیکوال او له نړیوالو ادبیاتو سره یې بشپړه اشنایي درلوده په ناول لیکنه کې د ډېرې تجربې ښښتن بلل کېږي، نو ځکه یې په ناولونو کې دغه داستاني توکی چې هغه د کرکټرونو انتخاب او د هغوی ژبه ده په ډېر مهارت او هنري ډول کارولی. د دې څېړنې هدف دا دی چې د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو د ژبې څېړنه او سپړنه وشي او د هغوی ژبه د تشریحي او تحلیلي کړنلارې په مرسته راڅرګنده شي، ځکه په هر ناول کې کرکټر خپله ژبه لري او د هغه له سویې او بنې سره سمه ژبه ورکول کېږي. د شپون په ټولو ناولونو کې دا ځانګړنه هم محسوسیږي، یعنې کرکټرونه یې ولسي او معیاري ژبې دواړه لري او د دواړو خواږه یې انځور کړي. په دې څېړنه کې جوته شوې چې شپون خپلو ناولونو ته د خپلې سیمې(کندز خان اباد) څخه لوستي او نالوستي اشخاص غوره او ټاکلي دي. ناپښتو ژبي کرکټرونه هم لري. هر کرکټر ته یې د هغه له شخصیت او سویې سره سمه ژبه ورکړې او د خپلو سیمه ییزو او ګړدودي ځانګړنو سره سم یې غږولي دي. د معیاري ګړدود ترڅنګ سیمه ییز ګړدود هم کاروي، په ډېرو ناولونو کې د کرکټر او لیکوال ژبه یوه ده. د طنز خواږه هم لري چې د خپلو کرکټرونو ژبه یې پرې رنګینه او خوږه کړې ده

**کلیدي کلمې**: ناول، کرکټر، ژبه، سویه

**استناد**: اندیال، فریدالله. (۱۴۰۴). د سعدالدین شپون د ناولونو کرکټرونو ژبه. *مجله علمی- پوهنتون غور*، ۲(۱)، ۱۰۵-۱۲۲.

The Language of Characters in Saaduddin Shpoon's Novels

Faridullah Indial

Associate Professor, Pahsto, Eduction, Ghor University, Firozkoh, Afghanistan. (Corresponding author), Faridullah8581@ghru.edu,Af

Received: 10/5/2025 | Accepted: 15/6/2025| Published: 30/12/2025

**Abstract**

Saaduddin Shpoon is a strong novelist with great familiarity with the world literature and is considered an experienced writer in the field of novel writing. He skillfully and artistically utilizes the narrative element of character selection and their language in his novels. This research aims to explore and analyze the language of characters in Shpoon's novels using descriptive and analytical methods. Each character in a novel has its own language, which is assigned according to the character's level and nature. This characteristic is noticeable in all of Shpoon's novels, where characters use both colloquial and standard languages, capturing the essence of both This research reveals that Shpoon selects and defines characters from his region (Kunduz, Khanabad), including both literate and illiterate individuals. He also includes non-Pashto-speaking characters, providing each with language suitable to their personality and level, reflecting regional and dialectal characteristics. In addition to standard dialect, he employs regional dialects, and in many novels, the language of the character and the writer are the same. His use of humor enriches the language of his characters, making it vibrant and engaging.

***Keywords:*** novel, character, language, level

**Cite:** Indial, F. (2025). The Language of Characters in Saaduddin Shpoon's Novels. *Scientific Journal of Ghor University, 2*(1), 105-122.

**سریزه**

د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو ژبه باندې تر اوسه داسې یوه څېړنه چا نه ده کړې، نو په همدې بنسټ مې د پښتو ژبې د ناول او کیسه لیکوال سعدالدین شپون د ناولونو کرکټرونو ژبه باندې د څېړنې او سپړنې په موخه یو څه ولیکل په دې لیکنه کې مې هڅه کړې چې د کرکټرونو ژبه یې په فني توګه راوسپړم چې شپون په خپلو ناولونو کې کرکټرونه په کومه ژبه او لهجه غږولي دي. د دې څېړنې اړتیا او ارزښت دا دی چې د سعدالدین شپون په ناولونو کې د کرکټرونو په ژبې به نوې څېړنه تر سره شي او نور څېړونکي به هم وهڅېږي چې پر دغه نامتو ناول لیکونکي څېړنې وکړي. د دې څېړنې موخه او هدف دا دی چې د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو د ژبې څېړنه او سپړنه وشي او د لوستو، نالوستو او ناپښتو ژبو کرکټرونو ژبه راڅرګنده شي.

د دې موضوع په اړه تر اوسه ځانګړې څېړنه نه ده شوې، خو په ځینو اثارو کې ورته ضمني اشارې شوي دي. نصرت اللّٰه غښتلي په خپل اثر(له فورمالیستي لید لوري د سعدالدین شپون د کیسو څېړنه) کې د کرکټرونو په ژبې یو لنډ بحث کړی. د دې ترڅنګ محمداسحاق مومند په خپل اثر(د سعدالدین شپون ژوند او اثارو څېړنه) کې د کرکټرونو په مکالمو او ژبې ضمني غږېدلی او بریالي باجوړي د ( پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ ویښتیا پړاو) کې د شپون د ناولونو کرکټرونو د ژبې په اړه دومره ویلي چې په زیاتره ناولونو او کیسو کې د کرکټر او د لیکوال ژبه یوه ده او نور یې پرې بحث نه دی کړی.

ما په دې څېړنه کې د سعدالدین شپون د ناولونو کرکټرونو ژبه باندې هر اړخیز بحث کړی او د کرکټرونو ژبنیز اړخونه جوت او روښانه شوي او په هغې مې خپله تبصره او شننه کړې چې شپون د خپلو ناولونو کرکټرونه په کومه ژبه او ګړدود غږولي؟

**د څېړنې کړنلاره**

د دې څېړنیزې مقالې کړنلاره او میتود تشریحي او تحلیلي دی او د څېړنې ډول یې په بشپړه توګه کتابتوني دی چې اصلي موضوع ترپایه په همدې ډول مخته تللې او بشپړه شوې ده. دا څېړنه د اړوندو کتابونو او مجلو په مرسته مخ ته تللې او د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو ژبنیز اړخونه مو په ښه ډول تحلیل او راسپړلي دي.

**اصلي متن**

کله چې کیسه ییز نثرونه لولو، نو په دې نثرونو کې حتمي د یوې کیسې او یا ناول د اصلي او فرعي کرکټرونو سره مخ کېږو، د دوی له کړو وړو، خویونو او نورو ګڼو اړخونو راڅرګندیږي چې دې ځانګړنو کې یوه د کرکټر ژبه ده او په یوې کیسې یا ناول کې کرکټر خپله ژبه لري، نو پر همدې بنسټ چې د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو ژبه راوسپړم، یعنې دغو کرکټرونو ته څه ډول ژبه ورکړل شوې او یا په څه ډول ژبه غږول شوي دي، نو اړینه ده چې لومړی کرکټر او د دې ځینې ځانګړنې وپېژنو او بیا به د شپون په ناولونو کې د کرکټرونو ژبه راوسپړو:

په کیسه ییزو نثرونو کې کرکټر داسې شخص وي چې ځانګړي خویونه او ځانګړنې لري، یعنې« کرکټر په لغت کې د یو شخص ځانګړي خوی، ذات او خصلت ته وایي او په عامه معنا د هغو ځانګړنو له مجموعې څخه عبارت دی چې د بېلابېلو ټولنیزو شرایطو له امله د یو انسان د غرایزو او پټو تمایلاتو نتیجه وي. په ادبیاتو کې د کرکټر له کلمې څخه مفهوم هغه خلق شوی فرد دی چې د یو حقیقي انسان په شان له خصوصیاتو څخه برخمن دی او له همدې خصوصیاتو سره په داستاني ژانر کې راڅرګندیږي»( ازمون، ۱۴۰۰، م ۳۹۳).

استاد شپون د پښتو ژبې د ادبیاتو سربېره په نړیوالو ادبیاتو کې هم د مطالعې خاوند و او ترڅنګ یې له خپل هېواد نه بهر هم ژوند تېر کړی، نو ځکه یې په کیسو او ناولونو کې د پښتني کرکټرونو ترڅنګ ناپښتني یا بهرني کرکټرونه هم کارولي او دا کار ځکه شوی چې استاد ځینې ناولونه له هېواده بهر د مسافرت په دیار کې لیکلي دي. خو په ټوله کې استاد شپون په خپلو ناولونو کې پښتني کرکټرونه ډېر کارولي په ځانګړي توګه د خپلې سیمې (کندز ولایت خان اباد) ولسوالۍ لوستي او نالوستي اشخاص دي. بریالي باجوړي د شپون د کرکټرونو په اړه ویلي:« د شپون په کیسو کې چې کوم شی ډېر په زړه پورې دی هغه د ده د کیسو کرکټرونه دي چې زیات د کلیو او بانډو شډل او نالوستي کسان دي. د کرکټرونو تصویري اړخ یې ډېر هنري دی»(باجوړی، ۱۳۹۳، م ۱۵۸). د استاد شپون له کرکټر پېژندنې راځو د کرکټرونو ژبې ته.

**د کرکټر ژبه**

په ټوله کې په کیسه ییزو ژانرونو او په ځانګړنې ډول په ناول کې چې کومې پېښې او کړه وړه رامنځ ته کېږي، دغه کړه وړه او پېښې د ځانګړو کرکټرونو په مرسته په یوې داسې ځانګړې ژبې او

لهجې پر مخ ځي چې د کرکټرونو له ځانګړنو سره بشپړه همغږي ولري، څکه د لوستو او نالوستو، د ځوان او زوړ، د ښاري او کليوال، د بزګر او استاد، د انجينر او ډاکټر، د نارينه او ښځينه وو سربېره د سيمه ييز او لهجوي بدلون په لړلو سره د هر يوه په ژبه او لهجه کې توپير موجود وي. د دې ترڅنګ د مورنۍ او دويمې ژبې خبره هم د کرکټر په ژبه کې ځانګړی رول لري.

دا چې شپون خپلو ناولونو ته د خپلې سيمې (کندز خان اباد) څخه لوستي او نالوستي کرکټرونه غوره کړي چې تر ډېره يې نالوستي دي. شپون چې څومره د کرکټرونو ظاهري او رواني اړخ ته ځير دی، همداسې يې د خپلو کرکټرونو ژبې او لهجې ته هم پوره پاملرنه کړې ده. د ده د کرکټرونو له ژبې موږ دا ثابتولی شو چې کرکټر د کومې سيمې، کومې ژبې، کوم عمر، زده کړې لري، نه يې لري،کرکټر بزګر، کوچی، کليوال، ډاکټر او که د پوهنتون استاد دی، د خبرو لهجه يې کومه ده، پښتو ژبه يې مورنۍ او که دويمه ژبه ده: «مخکې له دې چې کرکټر ولوستل شي بايد ځينو پوښتنو ته ځوابونه وموندل شي، لکه: کرکټر لوستی دی که نالوستی؟ د کوم عمر سړی دی، په کوم وخت پورې تړاو لري، د هغه وخت ژبه څه ډول وه چې کرکټر په کې ژوند کاوه، لباس او نورې کړنې يې څنګه دي، د کرکټر ژبه مورنۍ ده او که دويمه ده، د دغو پوښتنو په رڼا کې موږ کولای شو چې د کرکټر ژبه وټاکو»(غښتلی، ۱۴۰۱، م۲۰).

د شپون د ناولونو کرکټرونه لوستي او نالوستي کسان دي چې ډېر يې نالوستي دي او زده کړې نه لري، نو ژبه يې هم د هغوی له عمر او ټولنيز دريځ سره سمه ورکړې. د کرکټر لهجې او سيمې ته پکې پاملرنه شوې، څکه« ليکوال له علمي او لوستې کړې وځي، خپلې ټولنې ته ننوځي، په ښارونو، بانډو، کليو او لرې پرتو سيمو کې د بېلابېلو قشرونو چې د علمي کچې، دود دستور، سيمه ييزې لهجې او عادتونو له مخې له يو بل سره توپير لري، مخ کېږي او داستان ليکونکی اړ دی چې دا هر څه په خپله اصلي بڼه د يوه ماهر انځورګر غوندې په طبيعي ډول انځور کړي. په داستان کې په يوه کلي کې را لوی شوی او تجربه کار بزګر چې ټول عمر يې په بزګرۍ کې تېر کړی؛ نه شي کولی چې د يوه انجينر، ښوونکي يا ډاکټر په څېر خبرې وکړي او د دې برعکس د يوه بل مسلک اړوند کس بيا هېڅکله د يوه بزګر مکالمه او ژبه نه شي کارولی او که داستان ليکوال يې په زور تحميل کړي، نو د داستاني اثر خوند او منطقي تړاو په لوی لاس له منځه وړي»( رحماني، ۱۳۹۵، م ۱۶۱).

د شپون ټـول ناولونه د ولسي ژبې خواږه لري، خو د یو بل په نسبت په ځینو کې لـږه او پـه ځینو کې ډېره کارېدلې ده. د کرکټرونو ژبه یې کرکټر ته په کتو د سیمې او لهجې اړونـد ولسـي او معیاري ژبه کارولې ده، خو د معیاري ژبې د کارونې خوا یې درنه ده. موږ دلته د شـپون د نـاولونو کرکټرونو ژبه تر ځېړنې او شننې لاندې نیسو چې د پښتو او ناپښتو ژبو کرکټرونو ژبه ترې څرګنـده او روښانه شي:

د لوستو کرکټرونو د ژبې لپاره د سمځې یاران ناول نه د ډاکټر کمـال او بریـالي برمـانو د مکـالمې برخه راوړو چې د دوی د کرکټرونو د ژبې کارونه ترې څرګندېږي:

« برمانو وویل:( اوس نو وایه!)

( درنه ځم، خدای پاماني مې کوله !)

(کوم قبر ته روان یې؟)

( اوس حاضر خو مزار ته کله کېږم بیا نو ګوره چې قسمت مې په کومه بیایي.)

( ولې ځې؟)

( بس ځم، زیاتي کلی پوه شه کار یې.)

(کلی دې را وکتاوه اوس ته پخپله تر تبنتې؟)

( نور نو نه زه د کلي په کار یم او نه کلی زما.)

( بخت جماله څنګه؟ هغه دې هم نه ده په کار؟)

( ته بیا چا په دې پروپاګنډ کې شریک کړې؟)

( زه په مین سړي پوهېږم.... د مینې سره تل رسوایي مله وي.)

د برمانو په خبرې هم وشرمېدم چې اوس د کلي د خندا شوم او هم غوسه راغله چې برمانو ولې تر اوسه زما په بیوسۍ ځان نانګاره اچولی و، ډېره شېبه دواړه غلي وو. پـه اخـره کـې مـې وویـل:( د ځـانه لکه ماته ژرنده ګرېږې.)، خو برمانو پرېښودونې نه و،( لکه د کوکچې سیند چې پـه مستۍ سر په سنګړو وهي، خو چې امو ته ورپریوزي بیا نو کـراره کـراري وي. څومـره پـه هیـاهوی، کیش و کړپ راغلې او څه په خاموشۍ درومې)»(شپون، ۱۳۸۱، م ۲۰۴).

په پورته متن کې د ډاکټر کمال او بریالي برمانو ترمنځ مکالمـه ترسره شـوې. دوی دواړه لـه کوچنیوالي په ښوونځی او د پوهنتون په وختونو کې سره یـو ځـای ول. دواړو لـوړې زده کـړې

کـړي. ډاکټرکمال له طـب او برمـاڼو د ادبیـاتو لـه پـوهنځی فـارغ شـوی وو، یعنـې دواړه لوسـتي کرکټرونه دي. دې مکالمې ته که وګورو جملې یې لنډې او مناسبې دي یعنې یو لوی مطلـب یـې په لږو او مناسبو جملو کې وړاندې کړی. د خبرو لـه انـداز او طـرز نـه یـې هـم ځرګنـدیږي چـې لوستي کسان دي، ځکه چې ژبه یې تر ډېره معیاري ده. نو ځکه یې خبرې اترې جذابې او د دوی له شخصیتونو او سویې سره برابرې دي. د نالوستو کسانو له ژبې سره ځـرګند تـوپیر لـري. ځینـې وخت یې لوستي کرکټرونه هم په ولسي ژبه غږولي چې تر ډېره پکې د ګرامري قواعـدو خیـال نـه ساتل کیږي. اتل مشوانی د استاد شپون د سمڅې یاران ناول د کرکټر د ژبـې پـه اړه ویلـي دي:«د سمڅې یارانو ناول ژبه ډېره ولسي ده، نسبت د ښایسـتو نـاول تـه، ځکـه د ښایسـتو پـه نـاول کـې صحنې ډېرې دي چې د خارجي چاپېریال او فرهنـګ انځورونـه کـوي، ځکـه ژبـه هـم موډرنـه، ښاري پکې کارولې ده. د بېلګې لپاره د سمڅې یاران ناول نـه د ډاکټـر کمـال د خبـرو یـوه برخـه راوړو: ورځ مو په کیسو او د زړه په خواله تېره کړه، خویندې، خورزې، خوریونه هم غرمـه مهـال را ورسېدل. بس لکه بېرته هماغه پخوانی کور چې وي؛ خو داسې نه وه. هیڅ داسـې نـه وه، زه او دوی لکه دواړه پوهېدو چې دا خندا خوشحالی، ټوکې. ټولې د پخوا وختونو پېښې وې چې دوی زما او ما د دوی په خاطر کولې. د ماښام نه پس ورېنداري مـې د ډېـوې پـه ځـای سـوغاتي لمپـه ولګوله. سورګل سوغاتي رادیو چالانه کړه. د لمپې رڼا ته ټوله خېلخانه د سکلیټونو په شان ښکاره کېده. د خویندو هغه پخواني غوښن غومبورې نه وو. اوږده هډوکن مخونه، کنډاسې خـولې، جـږ وېښتان، سترګې په ژور غالو کې ننه وتلې. نیمه پټې، اوږده سـیوري یـې پـه ټغـر تیـار کالبوتونـه، غږونه یې د رانجو جوړلو په شان خوپ، خیرن، ګړنګن، کند اغوستي ماشومان ور پورې. تـل مـا ته او زما خبرو ته ځېر وو چې ګواکې کوم داسې زیری به ورکړم چې د دوی پخـوانی ژونـد بېرتـه خوندي کړي.

په پورته پراګراف ما یوازې تر هغو کلمو او عبارتونو لاندې کرښه تېـره کـړه چـې د ولـس پـه عادي ډیالوګ او لهجه کې کاریږي، ګنې د ټول متن ژبه ولسي او د ورځینو خبرو په شان ده. لکه د مترادفو کلمو راوړل، د ټینګار په خاطر د ځینو عبـارتونو تکـرار او د ګرامـري قواعـدو نـه خیـال ساتل ټولې هغه ځانګړنې دي چې په پورته متن کې موجود دي. مثلا د شپون صـاحب دا عبـارت چې د ډاکټر کمال له خولې ویل شوی: خو داسې نه وه، هیڅ داسې نه وه. بلکل لکه یـو ځـوک

چې درته مخامخ ناست وي او کیسه درته کوي، د ټینګار په خاطر زموږ په ولسي ژبه کې داسې او دې ته ورته جوړښت ډېر کارېږي»(مشوانی، ۱۳۹۸، م ۱۴۵).

پورته متن ته که وګورو هغه کلمې او ترکیبونه یې راوړي چې ولسي خلک یې په خپله ژبه کې استعمالوي او د ګرامري قواعدو چندان خیال نه ساتي. همدې ځانګړنې د شپون ناولونو ته یو قسم رنګیني او لوړتیا ورکړې ده. مشواني ورته داسې اشاره کړې ده:« د داستان په برخه کې د سیمه ییزې ژبې کارول داستان ته فوقیت او ښکلا وربښي. لکه د سعدالدین شپون په ناولونو کې، د سیمه ییزې ژبې ځرکونه ښه پرېمانه دي»(مشوانی، ۱۳۹۸، م ۱۷۴).

د لوستي کرکټر د ژبې لپاره د ښایستو ناول نه د مرکزي کرکټر چې خپله لیکوال دی د خبرو یوه برخه راوړو چې د لیکوال او کرکټر ژبه پکې یوه ده:« په دې ورځ چې زما اوو نیز لکچر پیل کېده. یو څه د وخته صنف ته لاړم، خپل نوټونه مې سره اونل چې اول شاګرد راننه ووت، زما په لېدو یې بیرته صنف پرېښود، په دهلیز کې د پښو د دربهار او شورماشور نه پوه شوم چې په نورو زیری کوي چې نوی استاد راغلی چې دا به لا څه آشا وي. د لاس ساعت مې په مېز ایښی و چې وګورم په وخت راځي او که یې سابه ور په مالګه کړم. خو ضرورت نه و، پنځه دقیقې لسو ته پاتې وې چې ور خلاص شو، په ډله راننوتل، په لاسونو یې سر سري سلام وکړ او په خپلو ځوکیو کښېناستل»(ازمون، ۱۳۹۸، م ۵۷۹).

پورته جملې د ښایستو ناول د مرکزي کرکټر چې خپله لیکوال دی له خولې ویل شوي.د جملو له جوړښت او ترښته څرګندېږي چې د کرکټر ژبه روانه او معیاري ده. کومه لهجوي ستونزه او پېچلتیا په کې نه لیدل کېږي. جملې یې عام فهمه او رواني دي. هر څوک یې چې لولي په اسانه پرې پوهېږي. د اوسنی املا او لیکدود سره تر ډېره کوم توپیر نه لري. د لهجو له کاروانه راوتې او د معیار تر پولې رسیدلې ښکاري. د سیمه ییزې ژبې په پرتله د ښاري یا مادرنې ژبې رنګ لري.

بله بېلګه د شین ټاغي ناول له مرکزي کرکټر ډاکټر محب له خولې راوړو او هغه څېړو:« تر دوشي پورې مې په زړه کې د شیطان او رحمن مقابله وه. وژنه یې، مه یې وژنه. د اسلامي احکامو نه نیولې، تر پښتني عنعناتو او حتی د شاعرانو او حکیمانو پورې ټولو ته مې روی وروور. نه پوهېدم چې کوم امر د شېطان دی او کوم د رحمن؟ که قسم ورکړم چې چا ته به د مخابرې حال

نه وایې، نو د پرچمې په قسم څه اتبار؟ که یې وژنم، د هغه شاعر خبره راتـه ولاړه وه چې(تـو از چنگال گرگم در ربودی + چودیدم عاقبت خود گرگ بودی) په دې خو خوشحالي نه وه په کـار چې د مخابرې په موضوع نه وه خبره. پخپله مخابره د اعدام دپاره کـافي وه. یـوې خواتـه دا متـل راته ولاړ و چې( مار وژلی ښه دی او کار کړی.) بلې خواته خوگیاني واله وه چې هغې بله سـرنده غړوله. د خنجانو نه کوز هوا نرمه شوه. واوره نه وه او د سرک سیند لوري کوز هلکانو د شـولو پـه پټیو کې چې اوس یې مازې سوارې(وډ) پاتې وې وري پېول»(شپون، ۱۳۷۹، م ۴۲).

پورته کلمات د شین ټاغي ناول د مرکـزي کـرکټر ډاکټـر محـب اللّـه لـه خـولې ویـل شـوي کلمات دي چې کلمې یې معیاري، ساده او روانـې دي مفهـوم یـې روښـانه او څرگنـد دی کومـه پېچلتیا نه لري، ژبه یې معیاري بریښي ترڅنگ یې د موضوع سـره سـم د خپلـې خبـرې د تائیــد لپاره متل ویلی چې ولسي خلك یې په ټولنه کـې د خــپلو خبـرو د پخلـي او تائیـد لپـاره وایـي. پورتني متل د ډاکټر محب خبرو ته قـوت او طبعي رنگ ورکـړی او دې کار د کرکټـر پـه منطقـي توب د لوستونکو باور زیات کـړی دی. د متل پېغام او مفهوم په دې ډول دی. هر کار چې کـوې په خپل لاس به یې کـوې، حتی که مار هم وژنې، نو په خپل لاس به یې وژنې، یعنې د بل چا پـه لاس به مار هم نه وژنې. د بل چا لاس ته به نه کینې، خپل ټول کارونه به په خپله مخته وړې.

د نالوستي کرکټر د ژبې لپاره د گټیالي ناول نه د تارو اکا مکالمـه راوړو چـې د یـو نالوسـتي کوچي د ژوند، سویي او ځای ښه نمایندگي کوي:« په اوغانستان کې پېړی نیمه، داسې پو هوښیار سړی پیدا شي چې بسته قام ورپسې روان شي. بیا نو د هغه کـول چې هر څومره کوشش وکړي، د نیکه نخښه نشي ویشتلی. هسې مې خبره کوله. صفدر خان هم د گوتې غمی دی او چې لـر او بـر نورو ملکانو سره یې وتلې نو ډېر پرې درونه خیژي، خـو خلـك دی د پـلار سـره تلـي او بیـا نـو افسوس کوي چې یره د ملك خالو خو دې مرگی نه وای. بیـا نـو ډېـره شـېبه بـوډا غلـی سـتمېده. گلاجان خپل پلار ته کتل. د کیږدۍ نه بهر چې ماښام تیاره راغله، ایله بوډا په خــبرو راغـی، یـره ځوانه دې دارو خو دې خوب را باندې راوست. د صفدرخان پوښتنه کوئ، هغه خو دا دوه هفتې کېږي چې ایلبند ته روان شوی دی. زه هم ورسره تلم، خو دا بدمذهبه مرض را بانـدې راغـی....» بیا یې نو په مهربانه لهجه گلاجان ته وویل، ته خوخداکه کوچی یې، نو چې هیڅ بې هیڅه ایلبنـد ته روان یې خدازده چې څه پټنه دې جوړه کـړې او څه گـوړې ماتوې، خـو ښـه ځیـرک هلـك

راته ښکاره شوې. بیا یې څوانکي ته غږ کړ، هلکه نرسولا، مېلمنو ته به په هغه بله، د مېلمنو په کیږدۍ کې ځای جوړ کړې، پام چې درنه وړي پاتې نشي»(شپون، ۱۳۷۸، م ۸۷).

پورته خبرو ته که وگورو نو له ورایه څرگندېږي چې د یو نالوستې کوچې وینا او خبرې دي. څکه په خبرو کې یې داسې ډېرې کلمې راغلي چې په کلیوالي لهجه کې عامې او مـروجې دي. په معیاري او کتابي شکل نه دي لیکل شوي، د بېلگې په تـوگه، اوغانستان، کول، نرسولا، چې په اصل کې افغانستان، کهول او نصراللّه دي. یا دا ولسي اصطلاح چې ولسي خلك یـې پـه خـپلو خبرو اترو کې استعمالوي( دا بدمذهبه مرض راباندې راغـی. تـه خوخداکـه کـوچی یـې) لـه دې کلمو او د خبرو له اندازه څرگندېږي چې د یو نالوستي کوچي وینا ده چې د تـارو اکـا د ژونـد لـه کچې او سویې سره بشپړ سمون لـري. جملې یې یو څه د لوستو کسانو په پرتله اوږدې دي.

همدارنگه د ښایستو ناول نه د ښایستو د مـرکزي کرکټرې د مکالمې یـوه برخـه راوړو چـې د ولسي او لهجوي ژبې ښه نمایندگي کوي:« د څـانه عیسایي ملا مه جوړه وه چې خلـك ورتـه پـه تیارې کوټه کې د خپلو گناوو اقرار کوي او هغه یې ښنې. که نجیب نر وي په رادیو کې دې اقـرار وکړي، څان دې محکمې ته تسلیم کي. چې د سنگسار حکم پرې کوي، که د زندی، هسـې خـو سلطان سکندر نایي هم د باچا د ښکر اقرار کویي ته کړی و.

پـه پورتـه پراگـراف کـې د ښـځینه لحـن عبارتونـه او جملـې کارېـدلې دي، همدارنگـه ډېـر ځـای لهجـوي فونیمونـه هـم کـارول شـوي دي، لکـه(کناوو) د (گنـاهو) پرځـای او هـم (رادیـو) د (راډیـو) پـر ځـای، (کـي) د (کـړي) پرځـای او (کـویي) د (کـوهي) پـر ځـای»( مشوانۍ، ۱۳۹۸، م ۲۴۶).

پورته جملې د ښایستو له خـولې په ولسي لهجه او ژبه داسې ویل شـوي چې د ښځینه وو د خبرو طرز او انداز هم ترې څرگندېږي، یعنې لوستونکی د دې جملو له لحن نه پوهېږي چې دا د یوې ښځینه جنس خبرې دي. له لهجوي کلماتو یې څرگندېږي چې ښایستو تر ډېره لوستې نه ده. په داستانونو کې د لهجوي فونیمونو او کلماتو د استعمال په اړه تر اوسه ټول لیکوال په یوه خوله نه دي. څینې یې په استعمال او څینې یې په نـه اسـتعمال تاکیـد کـوي. خـو د دې لپـاره چـې نـاول ربنتینی او طبیعي وبریښي، اوسنی څېړنه د دې سپارښتنه کوي چې لهجـوي لغـات بایـد اسـتعمال شي. په اړه یې په یو اثر کې لولو:« د ښه ناول او داستان په تشکیل کې د لهجـو خیـال سـاتل ژبـه

طبیعي کوي او ناول تر ډېره طبیعي توب ته بیایي، ځکه خو باید د لهجو خیال وساتل شي»(مشوانی، ۱۳۹۸، م ۲۴۵).

د نالوستي کرکټر لپاره د سمځي یاران ناول نه د یوې سپین سرې ښځې مکالمه راوړو چې د نالوستي شخص د ولسي ژبه ترې راجوتېږي:

« سپین سرې چې د هرې خبرې سره یې زګېروي کول سر لوڅ کړ، لاسونه یې آسمان ته ونیول،( خیروېسې ډانګټره، اللّه تعالی دې په دین دنیا سرپرازه لره چې زما نیازبینه نمسی دې راته روغه کړه.) ماته سودا راولوېده چې څنګه راغلي دي. یو څه وېرېدم چې هسې بې ښو بې بدو او بې جرګې یې راوستله.... سپین سرې یو دوه ځلي زګیروي ووهل او بیا یې ماته کړه،( زویه، زه په یوه مسخد پسې راغلې یم چې خوله مې نه جوړېږي. چې څنګه یې درته ووایم!) ما وویل،( څوک مو ناروغ دي؟) هغې وویل،( نه شکر دی ټول رک روغ یو، اللّه دې جنتونه نصیب کړه، جمالې دې ډېر صیپت راته کړی و، ما ویل چې یو وار دې په سترګو ووینم)»(شپون، ۱۳۸۱، م ۱۹۰).

پورته خبرې د ډاکټر کمال او یوې سپین سرې مېرمنې تر منځ شوې دي. د سپین سرې مېرمنې د جان و قربان او د خبرو له لحن نه هم سړی پوهېږي چې د ډېر عمر مېرمن ده. په خبرو کې داسې ولسي کلمات لیدل کېږي چې د دې نالوستي او ولسیتوب ترې له ورایه څرګندېږي. موږ په معیاري لهجه کې( ډاکټر، مقصد او صفت) لرو، ولې په ولسي ژبه کې چې د سپین سرې ښځینه له خولې(ډانګټر، مسخد او صیپت) ویل شوي چې ژبې ته یې طبیعي او ولسي رنګ ورکړی.

که پورته د تارواکا، ښایستو او سپین سرې مېرمن خبرو ته وګورو تر ډېره د نالوستو کرکټرونو له خولې په ولسي ژبه او لهجه ویل شوي. دې ولسي ژبې د شپون ناولونو ته طبعي رنګ او قوت ورکړی. که چېرې دغه کرکټرونه په معیاري ژبه او لهجه غږول شوي وای دغه طبیعي توب او منطقي توب له منځه ته او د مصنوعیت د اغېز لاندې راته.

شپون په خپلو ټولو ناولونو کې له پښتو ژبو کرکټرونو سربېره ناپښتو ژبې کرکټرونه هم کارولي دي. د دې کرکټرونو له ژبې موږ دا جوتولی شو چې کرکټر د کومې ژبې ویونکی دی. شپون د افغانستان په ډېرو ژبو او لهجو پوهېده د دري ژبې ډېرې لهجې ورته یادې وې، ځکه د افغانستان په شمال کې د دري ژبو په منځ کې رالوی شوی او ښوونځی یې هم په دري ژبه ویلی

دی. د دې ترخنګ هغه خلک چې پښتو ژبه یې خپله نه وي او پښتو په کوم انداز وایـي هـم ښـه مهارت لري. اوس به د ناپښتني کرکټرونو د ژبې لپاره د شین ټاغي ناول نه ځینې بېلګې راوړو:

« هغې په خندا ورته وویل: دا څشی دی چې دومره مردار بوی یې ځي؟

خادست وویل: دوا دي، د هفتادو دو مرض علاج دي.

کوچانۍ وویل: زما خاوند ته به یو غوړپ ورنه کړې؟

خادست وویل: هغې سې کوې، د بیمار په لحاف کې خپول ځان مه واچوه. تو وخوره کـه عـیش وکې.

کـوچانۍ وویل: زهـر نه وي چې ایسته مې د دنیـا نه تـیره کې. خـادست یـو غــوړپ تـرې تیــر کـړ: کې زهـر وي بیـان که مـامـول وکې»( شپون، ۱۳۷۹، م ۱۳۷).

همدارنګه د ملا شبه خي د دې پوښتنې په ځواب کې چې،« په سـرخکانو کـې بـه د غرمـې ډوډۍ وخورو.

خادست غړ کړ، دودي ماته پریده. زې د تاسو تول پیسې به ورکوم»(شپون، ۱۳۷۹، م ۱۳۹).

دغه مکالمه چې د خادست او کوچانۍ تر منځ تر سره شوې ده کوچانۍ هـم پـه اصـل کـې روسۍ پیغله ده، چې تاتیانا نومېږي او د کی جي بي ماموریت ته په کتو یې پښتو زده کړې ده. بل خادست دی له ژبې داسې معلومېږي چې د خادست ژبه پښتو نه بلکې دري ده، نو ځکه یې هغه سې غږولی لکه څنګه چې دري ژبی پښتو وایي، کله کله یې په دري ژبه هـم غږولـی دی. اسـتاد شپون په شمال کې د دري ژبو ترخنګ رالوی شوی او د دري ژبو هر رګ ورته معلوم و.

په ټوله کې د استاد شپون د کیسو کرکټرونه تر ډېره ژوندي او خوځنده دي. هر کرکټر ته یــې خپله سیمه ییزه ژبه او لهجه کارولې، یعنې ژبه یې په لوی لاس مصنوعي کړې نه ده. دده په کیسه ییزو کرکټرونو کې بزګر، کوچی، کلیوال، ښاري، دوکانـدار، د پوهنتـون اسـتاد، مـلا، دري ژبـی، سک، نارینه او ښځینه د ځانګړو خصوصیاتو او د هغوی موقفونو سره سم پـه طبیعـي ډول سـیمه ییزه ژبه او لهجه کاریدلې، خو تر ډېره یې د معیاري لهجـې نـه ګټـه پورتـه کـړې ده. د شـپون لـه ناولونو دا هم جوتولی شو چې جملې او عبارتونه یې په نارینه لحن او لهجه دي، کـه پـه ښـځینه. شپون د کرکټر په مکالمو او ژبه کې دې باریکو ته متوجه دی.

د بېلګې په توګه له ګټيالي ناول نه د ګلاجان او روهيلی مکالمه راوړو چې د سيمه ييزې او کليوالې لهجې بېلګې پکې تر سترګو کېږي:« روهيلی وويل، تاسو خو لکه چې د کوم بل ايالت نه راغلي يئ، د ناوې کور رابللي يئ که د هلك؟ ګلاجان وويل، خداکه هيڅا رابللي يو، هسې زما ملګري انور تلفون را ته وکړ او مونږ هم بدر راغلو، روهيلی وويل، دا د بدر لفظ خو لکه چې په ترکستان کې رواج دی، ګلاجان په يو څه قهر وويل، که ته يې ووايې نو څنګه به يې ووايې؟ روهيلی وويل، مونږ وايو، ايسته راغلو، يا ايسته را روان شوو. خو زه د کتغن د ژبې سره اشنا يم، يو تره مې په سپين زر کې مامور و او پلار مې د ايلبند نه راستنېدو په وخت کې زه يو څو ورځې هلته پرېښودم»(شپون، ۱۳۷۸، م ۴۱).

پورته خبرو کې چې د ګلاجان او روهيلی ترمنځ شوي، داسې سيمه ييز او لهجوي لغتونه او کلمې وينو چې يوه يې د شمال او بله يې د ختيځ د خلکو په لهجې او سيمې پورې اړه لري. دواړه کلمې مترادفې دي، معنا يې يوه ده، خو په لفظونو کې سره لهجوي او سيمه ييز توپير لري. د شمال خلك بدر او د ختيځ خلك ايسته وايي. له دينه معلومېږي چې ګلاجان د شمال کندز ولايت او روهيلی په ختيځو ولايتونو کې ډېر وخت تېر کړی. دا چې شپون په دواړو لهجو ښه حاکميت درلوده. نو ځکه يې خپلو کرکټرونو ته سيمه ييزه ژبه او لهجه کارولې ده. شپون په دواړو ځايونو کې وخت تېر کړی.

د شپون د کرکټرونو له ژبې مونږ پوهېږو چې کرکټر د کومې لهجې او سيمې اوسيدونکی دی. لکه په ښايستو ناول کې د يو کرکټر له خولې دغه جملې چې وايي:« يوه زورورە چپه لاخه مې ورکړه»(ازمون، ۱۳۹۸، م ۵۵۴).

له پورته خبرو څرګندېږي چې کرکټر د جنوبي سيمې کندهار اوسېدونکی دی، ځکه ( چپه لاخه) په جنوبي لهجه کې کارېږي. مونږ په معياري لهجه کې وايو، يوه کلکه څپېړه مې ورکړه. همدارنګه د پېښوری لهجې ځينې لغتونه هم د ده په ناولونو کې ليدل کېږي. د شين ټاغي ناول مرکزي کرکټر ډاکټر محب اللّٰه له خولې دا جملې:« بيا مې د بکس نه لويه توليه را واخيسته او د پردې نه شا ته مې دې ته ورکړه، واخله اول خپلې جامې وباسه، چې ټولې خيشتې دي»(شپون، ۱۳۷۹، م ۲۹).

په پورته متن کې ليدل کېږي چې (توليه، جامې) د پېښورۍ لهجې کلمې دي راغلي دي.
په همدې اړه ليکوال او مرکه کوونکي زرين انځور له شپون نه پوښتي چې:« په شين تاغي ناول کې ډېر نه خو يو څو ځايه د پېښورۍ او يا ښه دا ده چې سرې وواييي د اردو تر اغېز لاندې پښتو کارونې او اصطلاحات راغلي دي، لکه: بيا مې له بکس نه لويه توليه را واخيسته، او يا دا چې: بيا نو همدا جامې واچوه، نه پوهېږم داسې پښتو پر تاسو هم اثر کړی دی که څنګه؟
استاد شپون يې په ځواب کې ويلي:« زما په نظر د لروبرو پښتو ترمنځ کوم توپير نشته. مګر ما چې وليدل هغه څه چې موږ افغانانو ليکل، هغه پېښوريانو نه شول لوستلی، هغه څه چې هغوی ليکل، موږ ته يې لوستل دومره اسانه نه وو. اوس خو نو رسم الخط هم تر يو حده سره نږدې شوی دی، يوه هڅه روانه ده، زما مقصد دا و چې دا کتاب ټول ولولي. په کوټه کې هم دغه کتاب خلکو لوستی او په پېښور کې هم، زما هيله همدا وه چې ويې لولي، که بد ورته واييي او که ښه، خو له دې نه وم خبر چې، توليه، اردو ده»( ازمون، ۱۳۹۸، م ۲۰۳).
د لهجوي ژبې يوه ګټه دا ده چې د کرکټر په پېژندنه کې مرسته کوي لوستونکی پوهېږي چې کرکټر د کومې سيمې او کومې سويې دی. د استاد شپون له خبرو څرګندېږي چې په شعوري ډول يې خپل کرکټرونه په سيمه ييزه ژبه غږولي او خپل ناولونه او کرکټرونه يې پرې رنګين کړي، ځکه په يو اثر کې لولو:«که څه هم د کيسې د ليکوال يا راوي ژبه بايد معياري وي که کرکټرونه په خپله لهجه وغږوو فرق نه کوي، بلکې د داستان خوند لازياتوي» (کمال، ۱۳۹۹، م ۶۱). خو ځينې ليکوال په کيسه ايېزو ژانرونو کې د کرکټر په ژبه او ډيالوګ کې د سيمه ايزې لهجې کارونه يوه ستونزه ګڼي چې د نورو سيمو لوستونکو ته په افهام او تفهيم کې خنډ رامنځته کوي، نو ځکه يې په اړه ويلي:« د مکالمو په برخه کې يوه ستونزه د لهجې ده، چې يو شمير ليکوال سيمه ايزې لهجې کاروي، داسې لهجې چې د نورو سيمو خلکو ته بيخي نا اشنا وي او نه وربانديې پوهيږي» (عمرخيل، ۱۴۰۱، م ۱۴۶).
شپون بيا دا کار کرکټرونو ته په کتو په داسې هنر ترسره کړی چې لوستونکو ته هيڅ ستونزه نه پېښوي. اسدالله غضنفر د شپون د ژبې په اړه ويلي:« دی د خلکو په ژبه غږيږي او اسانه لغتونه انتخابوي لوستونکي نه مجبوروي چې وېيپانګه ورپسې وګوري، لکه څنګه چې خلک په طبيعي

او په ژوندۍ خبرو کې هغه جملې استعمالوي. د غضنفر په نظر دا طرز ځکه مهم دی، چې خلک یې د پردې توب احساس نه کوي او خپل یې ګڼي»(بدر، ۱۳۷۹، م ۳۵).

دا چې استاد شپون خپلو لیکنو او ناولونو ته اسانه او عام فهمه لغتونه انتخابوي چې هرڅوک پرې پوهېږي، د دې ترڅنګ پخواني پښتو سوچه لغتونه هم له یاده نه باسي او په داسې طرز یې راوړي چې په کلام کې هېڅ معنوي ستونزه نه پېښوي، بلکې لوستونکی یې په مطلب زر پوهېږي. لکه، خول، جوغه، ګروهه، اوښل، کراړه او داسې نورې کلمې چې د هرې کلمې بېلګه راوړل موضوع اوږدوي. د بېلګې لپاره یې د سمڅې یاران ناول مرکزي کرکټر ډاکټر کمال له خبرو ځینې جملې راوړو:« زما پلار به د بازار ملنګانو ته ډوډۍ ور وړله، حتی کور ته به یې راوستل ساعتونه ساعتونه به یې ورسره مرکه کوله. دا د کوم زړه سوي او خواخوږۍ لپاره نه، بلکې په دې تمه او ګروهه و، چې په دوی کې د مرتبې خاوند پیدا کېږي»(ازمون، ۱۳۹۸، م ۴۱۱).

په پورته بېلګه کې لیدل کېږي چې شپون د ګروهه لرغونې کلمه راوړې چې دا کلمه د پښتو ادبیاتو په لرغونو متونو کې ډېره راغلې ده، خو شپون په داسې توګه د خپل کرکټر له خولې کارولې چې لوستونکي ته معنوي ستونزه نه پېښوي، بلکې مفهوم ترې په ښه توګه اخیستی شي. له دې نه څرګندېږي چې شپون د پښتو ژبې له لرغونو متونو او کلمو سره پوره اشنایي لري.

استاد شپون هغه لیکوال دی چې هره لیکنه یې د طنز خواږه لري همدا علت دی چې د شپون ناولونه ډېر لوستونکي او مینوال لري، ځکه:« نوموړي په خپله هره لیکنه کې د طنز او هنر مالګه دوړولې ده. همدا طنز او د اولس په ژبه لیکنې، خبرې او ځانګړي کردارونه د ده یوه فوق العاده ځانګړنه وه»(مومند، ۱۴۰۲، م ۴۱۰).

د ښایستو ناول مرکزي کرکټر چې خپله لیکوال دی د خپلې مسافرۍ او مجردۍ د وختونو ژوند په داسې هنري او طنزي ژبه وړاندې کوي چې د لوستونکي په ذهن کې یو انځور جوړوي او لوستونکي له ځانه سره په دغه تجربه کې شریکوي. لکه چې وایي:« یو ځل بیا د پوهنتون او مجردۍ د وختونو غوندې مې کوټه ګډه وډه وه چې مور مې ویل،(خر په کې ګوډېږي) کالي هرې خواته پراته، پرتګونه د بستر نه چار چاپېره، د پایڅو دوه سوري لکه دوه سترګې هر چېرې چې مې ایستي وو په غولي پراته»(ازمون،۱۳۹۹، م ۵۶۲).

په پورته طنز کې ګورو چې شپون د خپلې مسافرۍ او مجردۍ د وختونو بې غوري او ګډوډيو ته په ډېرو هنري او طنزي الفاظو د انتقاد ګوته نيولې او هغه يې نقد کړې دی.

د پښتو ژبې له کلمو سربېره د نورو ژبو هغه لغتونه او کلمې هم په خپلو ناولونو کې راوړي چې په پښتو ژبه کې مروجې او دود وي او د پښتو ژبې ډېر لوستونکي يې پر معنا پوهېږي. د شپون د نورو ناولونو په پرتله په ښايستو ناول کې دغه برخه يو څه غوښنه ده. دلته يې ځينې بېلګې راوړو: فوټو، سوشال، سپانسر، هسپتال، فريج، پرابلم، چېټ، سرپرايز، کرسمس او داسې نورو انګليسي کلمو ترڅنګ د نورو ژبو کلمات هم راوړي، چې کومه معنوي ستونزه نه پېښوي. دی، لکه د نورو ځينو پښتنو ليکوالو په څېر يوازې د پښتو سوچه لغتونو پسې سرګردانه نه ګرځي او نه هم هرې کلمې ته په پښتو ژبه کې پښتو معادله کلمه لټوي، بلکې د ده لپاره هغه کلمه او لغت غوره او ښاغلی دی چې عام پښتانه يې استعمالوي او پرې پوهېږي، که دا لغت د هرې ژبې وي. غضنفر يې په اړه ليکلي:« شپون هغه لغت غوره ګڼي چې د افغانستان عام پښتانه يې استعمالوي دا لغت ممکن پښتو وي او يا د بلې ژبې، خو چې عوام يې وايي د استاد خوښ دی»(غضنفر، ۱۳۸۹، م ۲۵۱).

شپون په خپلو ټولو ناولونو کې تر ډېره نوي تشبيهات، ولسي ګړنې، متلونه، ټوکې ټکالې او محاورې کاروليې او په نازکو حالاتو کې يې د ولسي شعرونو او لنډيو خواږه هم ورګډ کړي، ځکه شپون د ولسي کلمو ښه زېرمه لري او هر کرکټر ته په کتو يې په ځانګړو حالاتو کې له معياري، ولسي، طنزيه او سيمه ييزه ژبه کارولې. د بېلګې لپاره د محمداجان له خولې نه ويل شوې ګړنه راوړو :« توبه مې دې وي خدايه، زما د ګلالي زوی او مرګ تر منځ اووه غرونه، خو که نه وايم د غمه يې وايم، دا څه کلامکاري وه، هلکه، خو ميړې دي، د سړي سر خو نه دی چې تا بيا د ځانه رستم جوړ کړ، هغه هم د داسې سړي دپاره چې زموږ خبره يې سپي ته واچوله»(شپون، ۱۳۷۸، م ۱۱۰).

کله چې صفدر خان ګلا جان ته د خپلې لور روهيلۍ له ورکړې انکار وکړ، نو د ګلا جان پلار محمداجان دغه ګړنه ورته وکاروله چې( زموږ خبره يې سپي ته واچوله). له ګړنې حقيقي معنا نه اخيستل کېږي، بلکې مجازي معنا لري. سپي ته خبره نه اچول کېږي. د دې ګړنې معنا دا ده چې زموږ خبرې ته يې ارزښت او اهميت ور نه کړ، بلکې ډېره کم ارزښته يې وګڼله.

خو استاد شپون په شین ټاغي ناول کې د ولسي ژبې په نوم ځینې کلمې د مرکــزي کرکټـر ډاکټر محب الله له خولې ناسمې لیکلي او اضافه والی یې په کې کړی، لکه(کشـکول او لالټـین) چې د ولس لوستي او نالوستي خلک یې په خبرو کـې ممکـن داسـې ونـه وایـي. محمداسـحاق مومند دې خبرې ته په خپل اثر کې داسې اشاره کړې:« په ځینو کلمو کې اضافه والی راولي، لکـه لاټین(څراغ) په لالټین باندې لیکي. پـه همـدې ډول پـه ټـول افغانسـتان کـې کچکـول همـدا یـو کچکول دی. ټول لوستي او نالوستي وګړي یې کچکول بولي اما لیکوال په شین ټـاغي کـې ورتـه کشکول ویلی دی.(ډاکټري ورکه کړې او د سوال کشکول یې ورک کړې چې هر مـریض تـه دې نیولی وي. د مریض پیسې داسې وي لکه د مړي خیرات)»(مومند، ۱۴۰۲، م ۲۶۷).

## پایله

د سعدالدین شپون د ناولونو کـرکـټرونو ژبه ولسي رنګ لـري. پـه ډېـرو نـاولونو کـې د لیکـوال او کـرکـټر ژبه یوه ده. د لوستو کرکټرونو ژبه یې تر ډېـره معیـاري او د نالوسـتو کـرکــټرونو ژبـه یـې ولسي ده. هـر کرکټر ته یې د خپل موقف او سویې سره سمه ژبـه کـارولې. د کـرکــټر لـه ژبـې دا جوتېږي چې د کومې سیمې او کومې ژبې ویونکی دی. هغه کرکټرونه چې پښتو ژبـه یـې دویمـه ژبه ده په داسې هنري ډول غږولي لکه څنګـه یـې یـو دري ژبـی پـه نیمـه ژبـه پښـتو وایـي کـوم مصنوعیت پکې نه لېدل کېږي، ځکه دی د پښتو ژبې په ډېـرو لهجـو پوهېـده او د دري ژبـې لـه لهجو سره یې هم پوره اشنایي درلوده. د دې ترڅنګ د نورو ژبو هغه لغتونه او کلمې هم په خپلـو ناولونو کې د کرکـټر په ژبه راوړي چې په پښتو ژبه کـې مروجـې او دود وي او د پښـتو ژبـې ډېـر لوستونکي یې پر معنا پوهېږي. لکه د نورو ځینو پښتنو لیکوالو په څېر یوازې د پښتو سوچه لغتونو پسې سرګردانه نه ګرځي او نه هم هرې کلمې ته په پښتو ژبه کې پښتو معادله کلمه لټوي.

د دې تر څنګ شپون په خپلو داستانونو کې تر ډېـره نوي تشـبیهات، ولسـي ګــړنې، متلونـه، ټوکې ټکالې او محاورې کارولي او په نازکـو حـالاتو کې یې د شـعر او لنـډیو خـواږه هـم ورګـډ کړي چې د کرکټرونو ژبه یې منطقي او طبیعي بریښي، ځکه د کرکټرونو ژبـه یـې د کرکټرونـو لـه سویې سره برابره ده، که کرکټر لوستی دی ژبه یې هم د لوستي شخص ده او که نالوسـتی دی ژبـه یې هم د نالوستي شخص د فکر او سویې نمایندګي کوي.

## منابع


۱. ازمون، لعل پاچا.(۱۳۹۸ل). په شگو کې سره زر( د استاد شپون داستاني کليات). ننگرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه.

۲. ازمون، لعل پاچا.(۱۳۹۸ل). د لفظونو شپون( د استاد شپون نثري کليات). ننگرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه.

۳. ازمون، لعل پاچا.( ۱۴۰۰ل). ادب تيوري. کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

۴. باجوړی، بريالی.(۱۳۹۷ل). د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ( د ويښتيا پړاو ). کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.

۵. بدر، صديق اللّه.(۱۳۸۹ل). د لونگو دريځې. ننگرهار: د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالستانو خپلواکه ټولنه.

٦. رحماني، گل رحمن.(۱۳۹۵ل). زرلټون. ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

۷. شپون، سعدالدين.(۱۳۷۸ل). گټيالی. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۸. شپون، سعدالدين.(۱۳۷۹ل). شين ټاغی دويم چاپ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۹. شپون، سعدالدين.( ۱۳۸۱ل). د سمځې ياران. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۱۰. عمرخيل، حميدالله.(۱۴۰۱ل). د پښتو هنري نثر محتوايي او شکلي څېړنه. د دوکتورا ډيزرټېشن(ناچاپ). کابل: کابل پوهنتون.

۱۱. غښتلی، نصرت الله.(۱۴۰۱ل). له فورماليستي ليد لوري د سعدالدين شپون د کيسو څېړنه. د ماستری تېزس(ناچاپ). کابل: کابل پوهنتون.

۱۲. غضنفر، اسداللّه.(۱۳۸۹ل). د نثر ليکلو هنر. نيدرلېند: افغاني کلتوري ټولنه.

۱۳. کمال، نازو.(۱۳۹۹ل). په پښتو داستاني ادب کې د لهجوي وييو د استعمال څرنگوالی. کابل مجله. لومړی او دويمه گڼه. د علوموااکاډمی. د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست.

۱۴. مشوانی، اتل.(۱۳۹۸ل). د سبک پېژندنې مېتودولوژي. جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه.

۱۵. مومند، محمداسحاق.(۱۴۰۲ل). د سعدالدين شپون ژوند او د اثارو څېړنه. کابل: د علومو اکاډمي، د پښتو ژبې او ادبياتو انستيټوټ.